مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۹/۱۹

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال

څلورم ټوک، مزار شریف

او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو پنځوسمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

چهار باغ: ۵۸ – ۳۶، ۴۷ – ۶۶ (ن): دا د بلخ په شمال کې یو کلی دی. دا کلی د نهر دولت آباد پر غاړه واقع دی او ظاهراً په همدې نامـهٔ کلي ته نیږدې واقع دی. دلته د عربانو ۷۰ کورنی میشتې دي. (اي. بي. سي.) *دا کلی د دولت آباد د سویل لویدیځ په نیږدې ۵ مایلی کې واقع دی.*

* **چهار باغ**: ۳۶ – ۵۹، ۱۳ – ۶۵ (ج): دا د اندخوی په شمال لویدیځ کې د قرقین د لارې په اوږدو کې یو کلی دی. دا کلی د خان چارباغ په ډول هم لیکل سوی دی. په دغـهٔ نامـهٔ بل کلی د سرپل د شمال په ۱۷ – ۳۶، ۵۵ – ۶۵ (ن) کې موقعیت لري.

چهار باغ گلشان:۴۵ – ۳۶، ۴۸ – ۶۶: دا له بلخ څخه تقریباً یو مایل لیرې آقچې ته د تللې لارې په اوږدو کې یو کلی دی. میتلند وایي چې دې کلي کې د دراني افغانانو (پښـتـنو – ژ) ۲۰ کورنی میشتې دي. خو پیکاک وایي چې دلته د پټهانانو ۱۰۰ کورنی میشتې دي او ۴۰۰ پسونه، ۶۰ اوښان او ۱۰ غوایان لري. دلته د اوبو دوې ژرندې سته او د کلي کلني کرنیز محصولات ۵۰۰ هندي مونده د غنمو او ۲۰۰ مونده وربشي دي. (اي. بي. سي.)

چهارباغِ نیملک: (نمک): ۵۲ – ۳۶، ۲۸ – ۶۶ (ن): لوړوالی: ۱۱۰۰ فیټه. دا د آقچې – بلخ تر منځ لارې په اوږدو کې له آقچې څخه ۱۷ مایله د نیملک د شمال لویدیځ په نیږدې ۴ مایلی کې یو کلی دی؛ دې کلي کې د وزبیکانو ۲۵ کورنی ژوند کوي. همدلته د دمې نیولو یو نامتو ځای او هم یو گودام هم سته. کله چې پیکاک د سپتمبر په میاشت کې دلته راغلی وو اوبـهٔ په کې په ندرت موندل کیدلې او د اوبو یوازینی ځای د ولاړو اوبو یو ډنډ وو او لاسرسی هم ورته گران وو چې په شا و خواوو کې د قرارگاه اچولو لپاره هم ځای نـهٔ وو. دا ښایي د رودِ بندِ امیر د اوسنیو سیلابونو له کبله وي چې د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوبو د کانالونو سرونه ئـي له ځان سره وړي دي. (اي. بي. سي.) *اوسنی نقشي د چهار باغِ نمک نوم ښيي چې د آقچې د سويل ختيځ په ۱۲ مايلی کې موقعيت لري.*

چهار بيد: ۵۴ ـ ۳۵، ۳۶ ـ ۶۵ «ج»: لوړوالی: ۶۵۰۰ فيټه. دا له آق کپروک څخه تر پلِ بابه زنگي پوري د لارې په اوږدو کې له قرچي څخه ۲/۱ ۴ مايله ليرې د دمې نيولو يو ځای دی. دا ځای د خپل نوم اشتقاقي وجهه د ولې له څلورو ونو څخه اخلي او همدلته د اوبو يوه چينه سته او د قرچي دويالي لپاره په ټول کال کې د اوبو سرچينه ده. ښايي سرتيري وکولای سي په چهار بيد کې قرار گاه جوړه کړي ځکه په قرچي کې د قرارگاه اچولو لپاره سم ځای نـهٔ سته. دلته ډير ځای دی چې پريمانه اوبـهٔ لري او په دوبي کې پريمانه وابنـهٔ او ښايي سون توکي هم ولري. د اړتيا وړ توکي له قرچي څخه. (ميتلند)

چهار بولاق: ۴۶ ـ ۳۶، ۴۲ ـ ۶۶ (ن): *دا د بلخ د ولايت يوه ولسوالي ده چې ۵۱۷ کيلومتر مربع مساحت لري، د دې ولسوالی دوگړو شمير افغان سرچينو په بيلابيلو ډولونو ويلی دی چې له ۱۲۹۰۵ تر ۱۹۸۱۶ تنو پورې ويل سوی دی. د دې ولسوالی کرښې: لويديځ: فيض آباد او مرديان، شمال کې دولت آباد، ختيځ کې بلخ او په سويل کې د چمتال ولسوالی دي. د چهار بولاق ولسوالي ۶۶ کلي لري چې له دې ډلې څخه ۱۱ هغه ئـې له ۵۰۰ ډير استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلې د دغو کليو نومونه په دې ډول ښودلي دي:*

مرکز چاربولاق	*قـرچي وطني*	*شاتي*	*ورناغـهٔ نـو وارد*
احمد آبادِ وطن	*خواجه روشني*	*قوق آباد*	*چوچک وطني*
دِهانو	*قريش*	*قزل قلعـهٔ وطني*	*آدينه مسجد*
شيخ تاشِ تيمور وطن	*توره تيکه*	*چرگی وطنی*	*نو شهر وردَک*
سالار تيپـهٔ ناصری	*بُز تيپه*	*گور تيپه*	*چوبـهٔ تيمورک*
برلاک	*لچک اريغ*	*سال بـرُن*	*سال اريغ*
منگولي وطني	*وستالگي*	*شلخی ِ سفلی*	*لبک*
درغانِ ناصري	*آق تپـهٔ وزبيکيه*	*سبزيکار*	*سپين کی وطنی*
تيمورکِ عليا	*تيمورک سفلی*	*زيگ زاگِ وطني*	*ارزان کار وطني*
تيگ	*نوی کوټ*	*استان*	*وچه ونه وطني*
ژنگوره وطني	*نو وارد و ياس*	*ديسـهٔ وطني*	*شيخ تاش تيمور نو وارد*
نو واردِ قزل قلا	*نو واردِ قاوَچي*	*آق تپـهٔ نو وارد*	*آبادِ نو وارد*
ورناغـهٔ وطني	*خواجه روشني نووارد*	*چرگـِ نو وارد*	*نو واردِ زکزک*
نو شهر وردک شاه پيکال	*نو وارد وچه ونه*	*ارزان کار نو وارد*	*درغانِ نو وارد*
زنگوره نو وارد	*سپين کی نو وارد*	*شلخی نو وارد*	*خواجه گلدار*
منگولی نو وارد	*چوچه کـهٔ نو وارد*	*آدينه مسجدِ نووارد*	*قاضي تپه*
گله جوی	*کهنه چاربولک*	*دياس مهاجر نو وارد*	*وزبيکِ تور تيکه*
قندهاري تيکه	*نو واردِ چرگي*		

د چهاربولاق په نامـهٔ يو کلی د دې ولسوالی اداري مرکز دی. دا کلی په ۱۹۱۴ زکال په لاندې ډول شرحه سوی دی: دا د نهر چهاربولاق پر غاړې د آقچې ـ بلخ د لارې د سويل په څو مايلی کې دی. ميتلند وايي چې دې کلي کې د غلزيو ۴۰ کورنی استوگني دي خو پيکاک د اټکل له مخې وايي چې دلته د پټهانانو ۱۰۰ کورنی دي چې ۳۰۰ پسونه او ۴۰ اوښان

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او ۳۰ غوايان لري. نوموړی واي چې دلته د اوبو يوه ژرنده هم سته او د کلي کلني کرنيز محصولات ۸۰۰ هندي مونده غنم او ۸۰۰ مونده وربشي دي.

د کلي شمال ته، د عمومي لارې په اوږدو کې، د چهابولاق بازار او سرای دی. د چهاربولاق بازار په دوه ووکتارونو کې د ګنبدي والو هټيو يوه ټولګه ده چې د عمومي لارې په شمال کې واقع دی. دلته په اونۍ کې يو ځل سيمه ييز بازار جوړيږي. ميتلند وايي: "سرای ټينګه احاطه لري او ګرد چاپيره ئې يو خندق دی. او شا ته ئې ور هاخوا د چهاربولاق نهر دی. عمومي لاره د پخو خښتو له يوۀ پله څخه تيريږي. د لارې په سويل کې د نهر شا ته يو کوچنی جهيل دی. دا جهيل د جون په مياشت کې وچ وي."

د ۱۸۸۶ز کال د آګست په مياشت کې ښاغلي دروموند په دې ځای کې په نهر کې اوبـۀ ونـۀ ليدلې او د دې لپاره چې اوبـۀ تر لاسه کړي بايد قزل قلا ته تللی وای چې له عمومي لارې څخه ۲/۱ ۳ مايله ليرې دی. په قزل قلعه کې د قرارګاه يا کمپ وهلو لپاره ښـۀ ځای سته او پريمانه واښـۀ لري او ويل سوي چې د ټول کال په اوږدو کې دلته واښـۀ سته. خو د دې ځای ځمکه په مالګو ډکه ده او په باراني هوا کې لمده وي. سرای د بلخ د دروازې له لويديځ څخه ۲/۱ ۱۱ مايله ليرې دی. (اې. بي. سي.)

چهار چشمه: ۵۰ – ۳۵، ۴۲ – ۶۷ (ن): دا د هغـې لارې په اوږدو کې يو ځای دی چې له روی څخه تر چهار اولياء پورې د لويديځ پر لور ځي. ويل سوي چې له روی څخه ئې واټن ۲/۱ ۱۳ مايله دی خو داسې ښکاري چې تر دې به لږ وي. په چهار چشمې کې د درې په اوب يلوونکي کې څلور ډنډونه دي او هغه وياله ئې ډکوي چې په شمال خوا کې له غرونو راکښته کيږي. له همدې ځايه يوه لاره شمال خوا ته د قربان بولک (شيلميتو) له لارې تر چويان چشمه او تر «اورلمش» پورې تللې ده. (اې. بي. سي.) افغان ګزيتر *په دې نامـۀ يو غر هم ثبت کړی دی چې ۳۵۱۴مټره لوړوالی لري او د سمنګانو د سويل لويديځ په ۵۱ – ۳۵، ۴۰ – ۶۷ (ج) کې واقع دی؛ او يو کوتل د سرکاري د سويل ختيځ په ۲۸ مايلی کې په ۴۸ – ۳۵، ۳۹ – ۶۷ (ج) کې واقع دی.*

چهاردار: چهار دَر: ۲۴ – ۳۵، ۳۷ – ۶۸ (ن): لوړوالی: ۶۶۰۰ فيټه. دا د چهار در د کوتل له لارې د چاريکار – ايبکو د لارې په اوږدو کې د دمې نيولو يو ځای دی. دا ځای د دو آب په ولسوالۍ کې له دهانِ ايسکر څخه ۱۹ مايله ليرې واقع دی. په چهار در کې درې سيندونه له يو بل سره يو ځای کيږي يو ئې د سَوزَک له شماله راځي، تلخان له ختيځه راځي او اَو سفيد له سويل څخه راځي، دا دريواړه د سياه مُنده سيند جوړوي چې د لويديځ پر لور بهيږي. د کمپ يا قرارګاه د جوړولو لپاره تر ټولو ښـۀ ځای د تلخان او اَوسفيد د سيندونو تر منځ په پوزې (سنګپوزې) کې دی. دا پوزه د يوۀ متساوي الساقين په ډول ده چې د برابرې اضلاع هره ضلعـه ئې ۴۷۵ يارډه او قاعده ئې ۷۰۰ يارډه ده. د تلخان او د سَوزَ ک د سيندونو تر منځ نور ځای هم سته. په ټوله کې دلته پريمانه ځای سته. امير يو سړک جوړ کړی دی چې د اَو سفيد د سيند له ښۍ غاړې کښته راغلی دی او ان تر تلخان پورې له او سفيد سره د يو ځای کيدنې له ټکي لږ پورته تللی دی. په ۱۸۸۶ زکال کې د تلخان د سيند پر سر پل نـۀ وو جوړ سوی خو د پلـۀ د طرفينو حائـل ديوالونه ئې چمتو ول. د پلـۀ د دوه وو ستنو تر منځ اوږدوالی ۴۰ فيټه او د پله د منځ ارتوالی ۲۱ فيټه په پام کې نيول سوی وو.

افغان سرحدي تحديد کميسيون د تلخان له پلـۀ څخه د يوۀ مؤقت لرګين پلـۀ پر سر تير سو دا پل د تلخان او اَو سفيد د يو ځای کيدلو له ټکي څخه ۳۵۰ يارډه پورته جوړ سوی وو. د سيند ارتوالی له يوې غاړې تر بلې غاړې ۳۰ يارډه دی. د

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سیلاب د اوښتلو د مخنیوي محافظتي غاړې ۷۰ یاردې دي. سیند په اکتوبر کې له ۱ تر ۳ فیټو پورې ژورې اوبـۀ لري. د سیند بستر یا بیخ ډبرین دی. د اوبو چټکوالی ئـې توند دی. د پلـۀ د جوړولو لپاره چارتراش د اَوسفید په اوږدو کې د یوۀ مایل په واټن کې تر لاسه کیدای سي. د چهار در اوبـۀ فوق العاده عالي دي؛ سون لرګي پریمانه دي چې هغه هم د اوسفید د سیند د غاړو په اوږدو کې پورته یو مایل لیرې تر لاسه کیدای سي. د واورو له ویلي کیدلو وروسته دلته د یوې میاشتې لپاره واښـۀ سته او نور بیا نـۀ موندل کیږي. د اوښانو د څـرلو لپاره ځای د ورسندان[1] پر لوړې سطحې سته چې د «زبومک[2]» د غرۀ له سره د نیمې ورځې مارش لیرې ده. (دُرموند)

چهار دره: وګورئ: بندر

چهار دار یا چهار در کوتل: وګورئ: شپږم ټوک: همدا شان وګورئ: چهاردر تپه

چهاردار تپه: ۱۱- ۳۶، ۷ – ۶۸ ۰ن): دا یو څرګند سر پلنی غر دی چې د پام وړ لوړوالي په لرلو راپورته سوی او د ایبک د درې له هر ځایه له ورایه ښکاري. دا غر د چاریکار – ایبک د لارې په سویل کې له ایبکو څخه ختیځ ته ۶ مایله لیرې واقع دی. لویدیځ ته ئـې یوه لاره ښکاري چې پر لوړې سطحې ورختلې ده. ویل سوي چې دا غر د چهار دارد تپې په نامـۀ یادیږي او لاره چهاردار کوتل ته ورخیږي. دا لاره په شور آب منتهي کیږي. مخې ته ئـې نیږدې د کوچنۍ دښتې بلې غاړې کې یو ډول اوږد غر دی چې د (کوۀ خاکستري) په نامـۀ یادیږي.

چهار دِه: ۳۲ – ۳۵، ۱۳ – ۶۷ (الف): دا د صوف د درې دولسوالۍ په ولیشان کې د کلیو یوه ډله ده. دا کلي د هغـې لارې پر غاړې واقع دي چې پورته د چشمـۀ دزدان له لارې تر جعفر کلا (بندِ امیر) ته تللې چې له آهنګران څخه نیږدې ۶ مایله کښته دي. په چهاردِه کې د (میچتک) [دوه کلي] او د (سفید خاک) [دوه کلي] دي. د دغو کلیو استوګن وګړي د دای میرداد په چاچې څانګې پورې اړه لري او ټولټال ۸۰ کورنۍ دي. (امیر خان)

چهاردهي: ۵۳ – ۳۵، ۲۸ – ۶۶: دا د سنګچارک د ولسوالۍ د فریسکان تګاو په پورتنۍ برخې کې د کلیو یوه ډله ده. د دغو کلیو او د ګاوندیو ورځیرمه کلیو خلک (آق پای) او (چیلمرد/ چهل مرد) دي او ویل سوي چې د خرګاه ګانو په کلیو کې له درې دِیر لیرې ژوند کوي خو په درې کې او د درې د اړوندو څانګو په تشو کې تر یوې کچې کرهنه کوي. خو د دوی ژوند او ژواک ټول په مالدارۍ پورې تړلی دی. په چهاردهي کې د خواجګانو ۱۰۰ کورنۍ دي. (میتلند)

چهار گنبذ: چهار گنبد: ۴۴ – ۳۶، ۵۲ – ۶۶ (ن): دا د نهر اصفهان پر غاړه بلخ ته نیږدې یو کلی دی چې د عبدالرحیمزي غلزیو ۱۰۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (اې. بي. سي.)

چهار قلعه: ـ ۳۵، ـ ۶۴ : دا د میمنې د المار په ولسوالۍ کې یو وزبیک کلی دی چې د المار په درې کې له پائین ګذر ۲ مایله کښته واقع دی. له همدې ځایه یوه لاره د قره ګلي کوتل له سره میمنې ته ځي. (ګریسباخ)

چهار کِند: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د سنګچارک د سَوزمه کلا تګاو په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۶۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (اې. بي. سي.)

چهارکند آق کپروک: ۱ – ۳۶. ۵۵ – ۶۶: دا د آق کپروک د ولسوالۍ یوه علاقه داري ده. ظاهراً داسې ښکاري چې د چهار کند نوم د دې لپاره دغـۀ ځای ته کارول سوی چې د یوې لویې سیمې لیرې پرتو کلیو ته دې اطلاق سي او ضرور

[1] - Warsandan
[2] - Zebumak

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نـۀ ده چې هرو مرو دې څلور کلي وي. ویل سوي چې د آق کپروک چهار کند له چیلمتو، للمي، سهراب، سوخته او د (باپوشت) له یوۀ کوچني کلي څخه جوړ سوی دی. ټولو دغو ځایونو کې وزبیکان میشت دي او داسې ښکاري چې دوی دې د آق کپروک او درۀ صوف تر منځ وي. (میتلند)

چهار کند مزارشریف: ۲۹ – ۲۶، ۳۷ – ۶۷ (ج): *دا د بلخ د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۱۴۳۸ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر په بیلابیلو ډولونو له ۱۳۰۸۵ تر ۱۵۲۳۱ تنو پورې ویلی دی. د دې علاقه داری کرښې: لویدیځ – شولګره، په شمال لویدیځ کې دهدادي، په شمال کې نهر شاهي، په ختیځ کې خلم او په سویل کې ئـې د صوف درې ولسوالی دي.*

د چهار کند مزارشریف علاقه داري ۳۹ کلي لري چې له دې شمیرې څخه ۱۹ کلي ئـې تر ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې د دغو کلیو نومونه په دې ډول ښودلي دی:

شهر چارکند	*بابا قوچي*	*سفید چشمه*	*گیرو*
خانقاه و سرآسیاب	*خانقاه*	*سر آسیاب*	*آبخانه*
تندورک	*شور بولاق*	*اوی بولاق*	*یکه تال*
بوریا باف	*میرگن شینه*	*کفش*	*شاه انجیر*
وزوماچه	*غچ هزاره*	*آج میرجي*	*سرخ کوچه*
ناب ایي و قوروغ	*چهار محله*	*قبرغه*	*چپ*
گرگب	*ترح لي*	*قورچۀ ایلاق*	*اورزعلي (عوض علي)*
خواجه بندي	*آب درۀ ایلاق*	*پس چاۀ ایلاق*	*فاطمه چشمۀ ایلاق*
جان بولاق	*قوره گن*	*غچ وزبیکیه*	*بولاق ایلاق*
قلتان			

د چهار کنت کلی د دې علاقه داری اداري مرکز دی. دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په دې ډول شرحه سوې ده: دا د مزارشریف یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري د رودِ بندِ امیر د سیند په ختیځ کې د پیکام درې او د صوف د درې شمال ته ګاونډی سیمه ده. د دې سیمې د وګړو ټولټال شمیر ۱۴۳۰ کورنۍ دی چې ۴۰۰ کورنۍ ئـې د هزاره ګانو، ۷۰۰ ئـې د تاجیکانو او ۴۳۰ ئـې د وزبیکانو دي. دوی هر یو په خپلو جلا جلا کلیو کې ژوند کوي پرته له هغې له یو سره مدغم او مختلط سوي هم دي. (اې. بي. سي.)

* **چهار کِنت**: ۵۵ – ۳۵، ۱۳ – ۶۶ (ن): دا د کچان د سیند پر غاړه یوه سیمه ده چې د کته کلا، پانیچ او بوینقرې کلي ئـې کرښې جوړوي.

چهار مغزار: دا یوه تنګه ژوره دره ده چې د قره کوتل له لوړې سطحې څخه مخ په شمال لویدیځ لوري راکوزه سوې او د اوچ تاش له تنګي سره یو ځای کیږي چې ورلاندې ئـې د کابل – مزار شریف سړک پر مخ تللی دی. (اې. بي. سي.)

اوسنۍ نقشې د سر مغزار نوم په ۲۷ – ۳۵، ۵۷ – ۶۷ (ن) او چهارمغزای په ۳۰ – ۳۵، ۵۰ – ۶۷ (ن) کې ښیي.

چهارمخساي: (مغزای): دا د دوآب په ولسوالۍ کې یو کلی دی. دې کلي کې د «زی هوبي تاتارانو[3]» ۱۰ کورنۍ دي. (اې. بي. سي.)

[3] - Zai Hubi Tatars

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چهار محله: ۳۰ – ۳۶، ۱۱ – ۶۷: دا د مزارشریف په چهارکند کي د شادیانو له سویل لویدیځ څخه څو مایله لیري د څلورو کوچنیو کلیو یوه ډله ده. په دغو کلیو کي د هزاره ګانو ټولټال ۲۰ کورنۍ دي. (میتلند) اوسنۍ نقشي دا نوم د «چهار مله» په ډول لیکي.

چهار سده: چهار صده: ۵ - ۳۵، ۶ – ۶۵ (ن): دا د سرپل یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري له «مک» سره په ګډه د فیروزکوهیانو ۱۵۰۰ کورنۍ لري چي ویل سوي په څلورو طائفو ویشل سوي دي: جواني، الله یاري، خدا یاري او محمدیاري.

ویل سوي چي چهار سده په څلورو فرعي څانګو ویشل سوي ده:

۱	ګوهر، منګ او دِه یک
۲	دِه حاجي، نیلینج او کـَـنـَـک
۳	بدقول، خجک او ګیلخین
۴	بردیز او شیمرګ
	(اي. بي. سي.)

په دي هکله لا ډیر معلومات په دریم ټوک کي د فیروزکوهیانو تر سرلیک لاندي راغلي دي.

چهارسده د هرات په پوځي ولسوالیو کي راځي او په ۱۹۰۰ز کال کي په ګارنیزیون کي ئـي د پلي ځواک یوه قطعه (هراتي کنډک) او ۲۰۰ خاصه داران ول. (آی. بي. سي.)

چهار سنګ: ۱ – ۳۶، ۴ – ۶۸: دا د ایبکو د سرباغ د علاقه دارۍ یو کلی دی چي د تاجیکانو ۱۵ کورنۍ په کي میشتي دي. (اي. بي. سي.) اوسنۍ نقشي دا نوم د «غار سنګ» په ډول ښیي.

چهار سنګ: ۴۲ – ۳۶ ، ۵۰ – ۶۶ (ن): دا د بلخ د سویل - سویل لویدیځ په نیږدي ۸ مایلۍ کي په نهر عبدالله کي یو کلی دی.

دي کلي کي د وزبیکانو ۱۲۰ کورنۍ دیره دي. پیکاک وایي چي چهار سنګ له موشکور څخه بویرلیق پوري د تللي لاري په اوږدو کي واقع دی او زیاتوي چي د وزبیکانو ۴۰۰ کورنۍ په کي ژوند کوي. (اي. بي. سي.)

چهارشمبه: ۴۳ - ۳۶، ۵۰ – ۶۵ (ن): دا د شبرغان د ولسوالۍ په آبِ سیاه کي یو کلی دی. دا کلی ۲۵ کورونه لري. (اي. بي. سي.) *دا کلی د شبرغان په شمال ختیځ کي موقعیت لري.*

چهار شنبه: ۴۵- ۳۵، ۵۹ – ۶۳ (ن): لوړوالی: ۲۳۰۰ فیټه. دا د میمني د علاقه دارۍ په «چیکچکته[4]» کي یو کلی دی چي بالا مرغاب څخه ۴۲ مایله لیري دی او د وزبیکانو ۱۰۰ کورنۍ په کي استوګني دي. د خواجه چهارشمبي زیارت د دي دري په شمالي اړخ کي دی. دي سیمي که ډیره کرهنه سوي ده چي په څو ځایونو کي ګڼي وني لري.

د کلا ولي دره دلته پراخه ده او له هري خوا ورباندي ډیري ټیټي غونډۍ راتاو دي چي په منځ کي ئـي کرار کرار سیند ته شیوه سوي دي. که ښه ورته په ځیر وګورو نو دا سیند نـۀ بلکه یوازي یو خندق دی خو د پلنوالي په پرتلي ډیر ژور دی (د ۱۸۸۵ د دسمبر په میاشت کي ئـي اوبـۀ تر ژیو رسیدلي وي او کټ مټ یو دام ته ورته دی چي د څارویو د تیریدلو لپاره ناسم او نا راحته ځای دی. د دي خندق پر غاړو د دریو بوټي او د ولي کوچنۍ وني شني سوي دي.

[4] -Chichakta

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د افغان سرحدي تحدید کمیسیون برتانوي برخه د ۱۸۸۵ – ۱۸۸۶ز کال د ژمي ډیرۍ برخه همدلته تیره کړه. دوی ته څرګنده سوه چې دا ځای تر بالا مرغاب ډیر سوړ دی ځکه دوی پروسږ کال ژمی په بالامرغاب کې تیر کړی وو. (میتلند) دا کلی د فاریاب د ولایت د قیصار د لویدیځ – شمال لویدیځ په ۱۹ نیږدې ۱۹ مایلۍ کې واقع دی.

چهار شنگي: دا د هژده نهر د ولسوالۍ په نهر مگزوم کې یو کلی دی. چې د ارسري تورکمنانو ۴۰ کورنۍ په کې استوگنې دي. (اې. بي. سي.)

چهار شنگي: ۱ – ۳۷ ، ۴ – ۶۶ (ن): دا د نهر سیدآباد پر غاړه د آقچې د شمال لویدیځ په ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی چې د ارسري تورکمنانو ۷۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (اې. بي. سي.) *دا کلی د شیخ رازي د لویدیځ په ۷ مایلۍ کې واقع دی.*

چارتک: چهار تک: ۵۷ – ۳۵، ۱۴ – ۶۷ (ج): دا یو منځغری دی چې د درۀ صوف په درې کې له کلا سرکاري ۵ مایله کښته راوځي. ویل سوي چې دا منځغری ۸ مایله اوږد دی او ورته ته نیږدې یو کلی دی چې د «اشلِز» په نامـۀ یادیږي. دا منځغری چهارتک نومیږي، دې منځغري خپل نوم له یوۀ تنگي څخه اخیستی دی چې په همدغـۀ نامـۀ نیم مایل پورته واقع دی. دا منځغری نـۀ ډبرین دی او نـۀ سخت. (صاحبداد خان)

چهارتوت: ۴۸ – ۳۵، ۵۲ – ۶۴ (ن): دا د میمنې په ولسوالۍ کې د تیلان په تنگي کې یو کلی دی. د دې کلي له څنگه هغه لاره تیریږي چې له تنگي ۷ مایله کښته کلا نیازبیگ ته ځي. دره دلته ۲۰۰ یاردِه پراخه ده. چارتوت کې د سنغ علي وزبیکانو ۲۰ کورونه دي. افغان گزیتر دا نوم د چارتو په ډول ښیي.

چهار زنگي: ۱۵ – ۳۵، ۳۸ – ۶۷: دا د هغو غرونو پر سر یو کوتل دی چې د سیغان او د کهمرد د ولسوالیو تر منځ کرښه جوړوي او د دندان شکن د کوتل له ختیځ خواته څخه ۸ مایله لیری دی. له هغـۀ ټکي څخه چې د دشتِ سفید لاره نور سیغان شا ته پریږدي ویل سوي چې له سرایک څخه ۳ مایله کښته یوه لاره تللې چې ظاهراً (له دشتِ گزک) تیریږي او د چهار زنگي کوتل ته ورځي او له هغـۀ ځایه دا لاره د کهمرد پر درې ورکوزیږي چې له سرپل څخه ۵ مایله کښته راځي. لاره سخته ده خو د آسونو د تگ لپاره عملي ده. (تالبوت)

* **چاهی**: ۰ – ۳۷، ۴۱ – ۶۶ (ن): دا د بلخ د شمال لویدیځ په ۲۲ مایلۍ کې د کِلِفت پر لارې باندې یو کلی دی.

چاۀ خاکي: ـ ۳۶، -- ۶۷: دا تاشقرغان ته نیږدې یو کلی دی. دا کلی د تاشقرغان د سیند په ختیځې څانگې خړوبیږي او د تاجیکانو ۲۸۰ کورنۍ په کې استوگنې دي. (اې. بي. سي.)

چاۀ لکو: ۵۸ – ۳۶، ۴۵ – ۶۷ (ج): دا د هغې لارې په اوږدو کې د دمې نیولو ځای دی چې شمال لور ته له تاشقرغان څخه د اکسوس پر غاړې کلدار ته ځي او له تاشقرغان څخه ۲۰ مایله لیرې دی. په دې ځای کې څاه گانې د ۲۰۰۰ یا ۳۰۰۰ پسونو لپاره په ورځ کې کافي اوبـۀ لري. (میتلند)

چهل دختر: ـ ۳۵، ـ ۶۷: داسې ښکاري چې دا نوم دې د شیشه ولنگ د تنگي هغې کښتنۍ برخې ته ورکړل سوی وي چې په چهار اولیاء کې د «مَـشَـر[5]» له تنگي سره یو ځای کیږي. د دې په گاونډ کې په همدې نامـۀ یو غر هم سته. (اې. بي. سي.) افغان گزیتر *په دې نامـۀ یو غر د سرکاري د سویل ختیځ په ۴۲ – ۳۵ ، ۲۳ - ۶۷ (ج) کې ثبت کړی دی.*

چهل دختران: وگورئ: چنگي

[5] - Mashar glen

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **چهل دختران**: ۴۴ ـ ۳۵، ۱۱ ـ ۶۵ (ج): دا د بلچراغ د سویل په ۶ مایلی کې یو کلی دی.

چهل غازي: ۴۴ ـ ۳۶، ۵۹ ـ ۶۶ (ن): دا مزارشریف د لویدیځ په ۶ مایلی کې یو کلی دی. دې کلي کې د غلزیو د بیلابیلو ځانګو ۱۰۰ کورنۍ استوګنې دي.

* **چهل حیوان**: ۴۵ ـ ۳۶، ۳۲ ـ ۶۷ (ج): دا د مزار شریف د ختیځ په ۲۶ مایلی کې یو کلی دی. اوسنۍ نقشې د چل ایوان نوم په ۴۵ ـ ۳۶، ۴۶ ـ ۶۷ (ن) کې ښیي.

چهل مرد: ۴۱ ـ ۳۶ ، ۴۸ ـ ۶۵ (ن): دا د شبرغان د ختیځ په ۶ مایلی کې یو کلی دی چې د «قزاقلي وزبیکانو[6]» ۱۰۰ کورنۍ په کې میشتې دي. (اې. بي. سي.) په دې نامـۀ بل کلی د «یُـکزر[7]» د سویل په ۱۸ مایلی کې په ۵۳ ـ ۳۵، ۲۷ ـ ۶۶ (ج) کې واقع دی.

چهلستون: ۴۵ ـ ۳۶ ، ۵۷ ـ ۶۶: دا د بلخ د ختیځ په ۳ مایلی کې یو کلی دی. دا کلی نهر مشتاق ته نیږدې واقع دی او ۱۵ کورنۍ په کې ژوند کوي. (میتلند)

چهلتن: ۲۳ ـ ۳۵، ۲۵ ـ ۶۷ (ن): دا د پورتني کهمرد په درې کې له هاجر ۳ مایله پورته یو زیارت دی.

چاۀ سید: ۵۵ ـ ۳۵، ۳۴ ـ ۶۶ (ج): دا د «کلا نـورَک» د شمال په ۲۳ مایلی کې یو ځای دی.

چاۀ شیرین: ۵ ـ ۳۶، ۲۱ ـ ۶۸ (ج) دا د ایبک په ولسوالی کې له رباط څخه تر غزنیګک پورې د تللي لارې په اوږدو کې یو ځای دی. دا ځای له رباط څخه ۴/۱ ۸ مایله لیرې دی او شمال ختیځ خواته د لارې له سره د نیږدې یو مایل په واټن لیرې دی. دې ځای ته یوه لاره تللې چې له هغـۀ ځایه بیا د «دشتِ بای سقال» یا د «دشتِ ګاور» شمال ختیځ ته تر خیرآباد پورې ځي. دلته څاه ۱۶ فیټه ژوره او قطر ئـې ۳ فیټه دی چې په مني کې ۱۰ فیټه اوبـۀ لري. دلته د کمپ وهلو لپاره ډیر ځای نـۀ سته خو دا یوازینی ځای دی چې «قره شیریک یار» ته د لنډ ځای په نامـۀ پیژندل کیږي، قره شیریکیار وړاندې شمال ته ۴/۳ ۱۲ مایله یا له اخته خانې څخه (۸ مایله) لیرې دی. څاه ته نیږدې د لوړ ګړنګ پر سر د «سیغانچي هزاره ګانو» د کیږدیو ځایونه دي چې ټول ژوند و ژواک ئـې په خپل رمو پورې او څو اسپو پورې تړلی دی. (اې. بي. سي.) *دا نوم د چای شیرین په ډول هم لیکل سوی دی.*

چاهیا: چهیه: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د بلخ په دښتې کې واقع دی چې له آدینه مسجد څخه تر اینچه پورې لاره ئـې له څنګه تیریږي. پیکاک وایي چې دې کلي کې د ارسري تورکمنانو ۱۵۰ کورنۍ ژوند کوي او د کرنیزو محصولاتو د کلني حاصل اندازه ئـې د غنمو ۱۰۰۳۰ مونډه اټکل سوې ده. داسې ښکاري چې د دې ځای نوم دې هماغه نوم وي چې میتلند ئـې د «جوی چای» په نامـۀ یادوي او ویلي ئـې دي چې ۱۰۰ کورنۍ وګړي لري.

* **چاه کش**: چکش: ۵۵ ـ ۳۶، ۲۳ ـ ۶۶ (ن): دا د آقچې د ختیځ په ۱۴ مایلی کې یو کلی دی. اوسنۍ نقشې دا نوم د «چـَـکـِـش» په ډول ښیي.

* **چهلان**: ۲۸ ـ ۳۶، ۵۲ ـ ۶۶ (ج): دا د وزیرآبا د سویل په ۱۴ مایلی کې یو کلی دی.

چای: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د نهر مګزوم پر غاړې یو کلی دی چې د ارسري تورکمنانو ۴۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (اې. بي. سي.)

---

[6] - Kazakh Uzbaks

[7] - Yukzar

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **چاۀ کهنه**: (چای کهنه): ۵۶ ـ ۳۶، ۲۳ ـ ۶۵ (ج): دا د اندخوی د ختیځ په ۱۷ مایلی کي یو ځای دی.

چیل: وګورئ: سبز

چلمتو: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د ۸۰ وزبیک کورونو یو کلی دی چي د آق کپروک په چهارکند کي موقعیت لری. (اي. بي. سي.)

چای میر: چاۀ میر: ۳۸ ـ ۳۵، ۴۵ ـ ۶۵ (ن): دا د کشکک د سویل په ۲ مایلی کي د دریای صوفک پر غاړي یو کلی دی.

* **چکان**: ۳۸ ـ ۳۶، ۲۳ ـ ۶۵ (ن): دا د شبرغان په لویدیځ کي د اندخوی د متبادلي لاري په اوږدو کي یو کلی دی.

چاه کش: چکش: ۵۵ ـ ۳۶، ۲۳ ـ ۶۶(ج): دا د خواجه سالار د دالي په اداري ویش کي یوه سیمه ده. *دا کلی له آقچي څخه ۱۴ مایله لیري موقعیت لري.*

چاه کش: ۴۹ ـ ۳۶، ۵۵ ـ ۶۶ (ن): دا د نهر اصفهان پر غاړه یو کلی دی چي د بلخ د شمال په ۶ مایلی کي موقعیت لري. دي کلي کي د وزبیکانو ۱۰۰ کورنی اوسیږي. (اي. بي. سي.) *په دي نامۀ نور کلي په ۵۰ ـ ۳۶، ۱۷ ـ ۶۶ (ن) کي او په ۴۹ ـ ۳۶، ۱۸ ـ ۶۶ (ن) موقعیت لري.*

چاه کش: ۵۵ ـ ۳۶، ۲۳ ـ ۶۶ (ن): دا د نهر فیض آباد پر غاړي یو کلی دی چي د وزبیکانو ۱۰۰ کورنی په کي استوګني دي. دا کلی د آقچي د ختیځ په ۱۲ مایلی کي واقع دی. (اي. بي. سي.)

چخچي: چقچي: ۴۸ ـ ۳۶، ۵۸ ـ ۶۵ (ن): لوړوالی: ۱۰۱۰ فیټه. دا یو ډیر بي وزلي او غریب کلی دی چي د شبرغان ـ آقچي د لاري په اوږدو کي د دواړو ځایونو په منځ واټن کي واقع دی. دي کلي کي د ارسري تورکمنانو ۱۲۰ تنه ژوند کوي، دوی په څپرو کي ژوند کوي چي له درویو یا نی څخه ئي جوړ کړي دي او په همدي سیمي کي دلته او هلته چي د چخچي یا چقچي په نامۀ یادیږي ځي او ځایونه بدلوي.

پیکاک دا ځای د «چیکچګي» په نامۀ یادوي او وایي چي وزبیکان او افغانان دا نوم په همدي بڼه تلفظوي خو تورکمنان ئي د «شیخګي» په ډول تلفظوي. (اي. بي. سي.) *اوسنی نقشي دا نوم د «چقچي» په ډول لیکي.*

* **چکمه چقور**: ۱۰ ـ ۳۶، ۲۸ ـ ۶۵ (ن): دا له خانقاه څخه تر قدق پوري د تللي لاري په اوږدو کي د سرپل لویدیځ کي یو کلی دی.

* **چکمانِ پائین**: ۵۷ ـ ۳۶، ۱۱- ۶۵ (ن): دا د اندخوی د ختیځ په ۶ مایلی کي شبرغان ته د لاري په اوږدو کي یو کلی دی. بل کلی چي د چکمانِ بالا په نامۀ یادیږي ورته نیږدي په ۵۷ ـ ۳۶، ۱۳ ـ ۶۵ (ن) کي موقعیت لري.

* **چکمش**: ۴۹ ـ ۳۶ ، ۵۴ ـ ۶۶ (ج): دا د وزیر آباد د شمال په ۷ مایلی کي یو کلی دی. اوسنی نقشي دا نوم د «چکیش» په ډول ښیي.

* **چلاغ خواجه**: ۷ ـ ۳۶، ۳۶ ـ ۶۴ (ج): دا د میمني د شمال لویدیځ په ۱۸ مایلی کي یو کلی دی.

* **چلم گرزال**: ۵۰ ـ ۳۶، ۵۳ ـ ۶۶ (ج): دا د وزیر آباد د شمال په ۸ مایلی کي یو کلی دی.

چمبرک: ـ ۳۵، ـ۶۷: لوړوالی: ۷۵۲۰ فیټه. دا د روی د کلي د ختیځ په ۴ مایلی کي یو کوتل دی چي د کابل ـ مزارشریف سړک ورڅخه تیریږي. دا کوتل د روی له دښتي د ۱۲۰۰ فیټو په لوړوالي پورته تللي دی. دا کوتل کومه سختي نـۀ لري. له دښتي څخه لوړ لور ته د لوړي سطحي پورته کیدل لاري ته نیږدي یو ښکلی منظر د سړي سترګو ته وړاندي کوي. د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دغـهٔ ځای د غونډیو پر سر د آس ځغلول شوني او آسانه دی او د سیمي ختیځ خوا ان تر اوب یللوونکي لړۍ پوري د آس ځغلولو لپاره نسبتاً ممکن دي. ویل سوي چي دا لړۍ د (کوهٔ اقسو) په نامـهٔ یادیږي او نوم ئـي د آقسو له تنگي اوږدي دري څخه راغلی دی چي د غرونو په لمنو کي ان له ۸ تر ۱۰ مایلو پوري پر مخ ځي. ویل سوي چي دا دره ژوره او ډبرینه ده او ان تر دې چي دومره تنگه ده چي تیریدل ورڅخه ناشوني دي مگر دا چي د دري سر ته نیږدي ځایه ورڅخه واوړئ. د دې دري شمال ختیځ ته د چونغر غر دی او کیڼ لور ته ئـي د ارچه کوتل دی. لویدیځ ته ئـي د دریو مایلو په لیري والي د اساسي سیند یو ژور منځغری دی چي تیریدل ورڅخه ناشوني دي، خو که څوک ورڅخه ها خوا «جنگل کوه» ته واوړي دومره لیري به نـهٔ وي تللی. د قره کوتل د غرونو سویل لور ته یو مخ په لوړیدو، تیاره، او له ورایه ښکاریدونکی افق په سترگو کیږي. مخامخ چي شمال لوری دی، د ستري لوړي سطحي لیکه لیکه اوڅپاند غرونه تر هغـهٔ چي سترگي کار کوي په افق کي له سترگو پناه کیږي. د شاړي وچي کلکي سیمي دا ټوله منظره متروکه خو پریږده چي ډیره محزونه ده. شک نـهٔ سته چي دلته په پسرلي کي تر یوې کچي شینوالی او تاندوالی سته او د سیند پرغاړه خوري وري پرتي د استوگنو سیمو وگړي خپلو رمو سره دغو سیمو ته د پووندو لپاره راځي.

له کوتله کښته کیدل آسانه دي او لاره تر نیم مایل پوري ښه ده. ورپسي یوه لویه پرښه په لاري کي انقطاع رامنځته کوي او له څنگه ئـي یو ژوره، ښویه، لښتی ډوله لاره تیریږي. د مایل د ربعي په واټن لاره په مارپیچ ډول کښته سوي چي ډیره شیوه نه ده خو تنگه او ډبرینه او ناهمواره ده. د کښته کیدلو دا واټن تقریباً نیم مایل دی. د کوتل له سره د کوتل تر بیخ پوري لاره ۱ ۲/۱ مایل ده. سقوط ئـي ۵۸۰ فیټه دی. تر غرني مهمیز لاندي کولای سو نوي لاره جوړه کړو چي د اوسنی لاري ښي لاس ته راځي. په ډیریو ځایونو کي ډبري ښایي سطحي ته نیږدي اوسي خو له ظواهرو ښکاري چي پرته له دې چي ډیري تیري ماتي سي همدا تیري په لاره کي ټینگیدلای سي او تر کوتل پوري ورته مناسبه چرایي جوړیدای سي. دغـهٔ غرني مهمیز ته یوه لاره ورختلي ده چي دو آبِ شاه پسند ته تللي ده.

چمگرهي: ـ ۳۶، ـ ۶۷: دا له ایبکو کښته د تاشقرغان د سیند پر کیني غاړي یو کلی دی. دې کلي کي د شینواري افغانانو (پښتنو- ژ) ۵۰ کورونه ودان دي. (ای. بي. سي.)

چـم قلعه: ۳۵ ـ ۳۶، ۲۴ ـ ۶۵ (ج): دا د شبرغان د سویل لویدیځ په ۲۰ مایلی کي یو کلی دی. بل کلی چي په اوسنیو نقشو کي د چـم قلعه په ډول تلفظ کیږي په ۰ ـ ۳۶، ۳۳ ـ ۶۴ (ج) کي موقعیت لري.

نور بیا

چنگک: ۱۵

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ